

UK Health Security Agency

NHS CARE

# د 2024 کال په پسرلي کې د کووېډ-19 د واکسينو د کمپاين په هکله لارښود

**سږ کال پسرلي کې به د کورونا (کووېډ-19) وايروس واکسين د هغو کسانو لپاره چې عمرونه يې تر 75 لوړ وي، مسن اشخاص چې په کور کې تر پالنه لاندې وي، هر هغه شخص ته چې عمر يې 6 مياشتې يا تر هغې لوړ وي او د بدن دفاعی سيستم يې ضعيف وي، تطبيق شي.**

## دغه منګني واکسين د کومو اشخاصو لپاره توصيه کېږي؟

د کووېډ-19 ناروغي په موسنو او هغو اشخاصو کې چې ناوړه روغتيايي حالت لري، ډېره جدي او شديده وي. له همدې امله هغو اشخاصو ته چې 75 کاله او تر دې ډېر عمر لري، په کور کې تر پالنه لاندې دي، هغو ماشومانو ته چې 6 مياشتې او تر دې ډېر عمر لري او تر ګواښ لاندې دي، په دغه پسرل پروګرام کې د کووېډ-19 واکسينو دوز توصيه کېږي.

## د پسرلي واکسينو د تطبيق مهالوېش

تاسو ته بايد د اپريل او جون مياشتو ترمنځ د واکسينو د تطبيق لپاره نوبت درکړل شي او لومړی بايد د هغو اشخاصو سره اړيکه ونيول شي چې کووېډ تر لوړ ګواښ لاندې دي. تاسو بايد د خپل وروستي دوز واکسينو له تطبيق وروسته حداقل 6 مياشتې وروسته خپل واکسين تطبيق کړئ، لېکن 3 مياشتې وروسته د لومړي دوز له تطبيق څخه هم دا کار کولی شئ.

که چېرې د اپرېل او جون مياشتو ترمنځ ستاسو د عمر 75 کالونه پوره کېږي، نو اړتيا نه لرئ چې خپلې دقيقې کليزې ته په تمه شئ، او کولی د غوښتنې په صورت کې په همدې موده کې خپل واکسين ترلاسه کړئ.

**جدي جانبي عوراض:** د کووېډ-19 Pfizer او Moderna دواړو واکسينو له تطبيق وروسته د زړه د پړسوب په اړه (چې myocarditis يا pericarditis هم ورته وايي)، ځينې راپورونه ثبت شوي دي. دا ډول موارد په ځوانو نارينه وو کې د واکسينو له تطبيق څو ورځې وروسته ليدل شوي دي. په دغو اعراضو او علائمو ډېرى اخته کسان له استراحت او ساده درملنې وروسته ژر د خوښۍ احساس کړى او ښېرته روغ شوي دي. که چېرې د واکسينو له تطبيق وروسته لاندې ستونزې تجربه کوئ، نو بايد فورا د طبي مشورې په لټه کې شئ:

- د سينې درد
- سالنډي
- د زړه ضربان ډېرېدل، د زړه لړزه يا رپېدل

که چېرې تاسو د خپلو واکسينو د پخوانيو دوزونو سره شديد جانبي عوارض پيدا کړي وي، کولی شئ په دې اړه مشوره ترلاسه کړئ چې آيا د واکسينو له تطبيق ډډه وکړئ يا يې په تعلق کې واچوئ. تاسو بايد په دې اړه د خپل ډاکټر يا متخصص سره مشوره وکړئ. مهرباني وکړئ د جانبي عوارضو په اړه د رپورټ ورکولو لپاره د لارښود شاتنۍ برخه وګورئ.

## تاسو بايد څه وکړئ که تاسو د خپل ټاکل کيدو په ورځ ښه نه ياست؟

که چېرې ناروغ ياست، نو په ټمه شئ ترڅو ښېرته روغ شئ، او له هغې وروسته بيا خپل واکسين تطبيق کړئ. که چېرې تبه لرئ، او يا فکر کوئ چې ممکن نورو کسانو ته ساري ناروغي انتقال کړئ، نو په دې حالت کې بايد خپل ملاقات ته حاضر نه شئ

## آيا د واکسينو له تطبيق وروسته هم په کووېډ-19 ناروغۍ اخته کېدی شئ؟

د کووېډ-19 واکسينو په تطبيق سره به سږ اوږې په ياده ناورغۍ باندې د اخته کېدو ګواښ راکم شي. دا به څو ورځې وخت ونيسي چې ستاسو بدن د يادې ناروغۍ پروړاندې يو څه اضافي مصؤنيت رامنځ ته کړي. لکه د نورو ټولو درملو په شان هيڅ ډول واکسين بشپړ مؤثريت نه لري. ځينې اشخاص ممکن د واکسينو د تطبيق سربېره په کووېډ-19 ناروغۍ اخته شي، خو کېدی شي دغه ناورغۍ په هغوی باندې آسانه تېره شي.

## که چېرې تاسو خپل هيڅ ډول واکسين نه وي تطبيق کړي

که چېرې مو د خپلو واکسينو لومړي دوه دوزونه نه وي ترلاسه کړي (او يا مو د ضعيف دفاعي سيستم د لرلو لپاره خپل درېيم دوز نه وي ترلاسه کړی)، نو بايد په دې موسمي کمپاين کې واکسين ترلاسه کړئ. که چېرې د واکسينو د تطبيق لپاره په شرايطو برابر ياست او خپل تېر دوز مو نه وي ترلاسه کړی، نو بايد د جبران لپاره يې په سږ پسرلي کې دا واکسين ترلاسه کړئ. ډېرى اشخاص د خپلو تېرو واکسينو د جبران لپاره اضافي دوزونو ته اړتيا نه لري. که چېرې مو د بدن دفاعي سيستم ډېر ضعيف وي، نو ستاسو ډاکټر ممکن تاسو ته توصيه وکړي چې د پسرلي له واکسينو 3 مياشتو وروسته يو اضافي دوز هم ترلاسه کړئ.

## آيا د واکسينو له تطبيق وروسته بايد په ټمه شم؟

که چېرې مو په تېرو وختونو کې حساسيت لرلی وي، او يا مو که چېرې د تېر دوز له تطبيق وروسته شديد عکس العمل لرلی وي، نو ممکن تاسو ته سپارښتنه وشي چې د واکسين له تطبيق وروسته د 15 دقيقو لپاره همدلته په ټمه شئ. لطفا حتما دا موضوع د واکسينو له تطبيقوونکي سره شريکه کړئ.



## تاسو ته به کوم ډول واکسین وړاندې کېږي؟

تاسو ته به په بریتانیا کې د Pfizer، Sanofi یا Moderna لخوا تولید شوی واکسین درکړل شي. دا واکسینونه د لومړنیو اصلي واکسینو وروسته نوي شوي دي او د کووېډ-19 د یوې بلې مختلفې نوعې د مخنیوي لپاره استفاده کېږي. دا نوي تازه شوي واکسین ستاسو د بدن معافیت لا لوړوي، او د کووېډ-19 د ترټولو نوي بڼې (اومیکرون) پر وړاندې ستاسو په بدن کې انټي باډي تولیدوي.

موږ نه پوهېږو چې په سړ پسرلي او اوړي کې به د کووېډ-19 کومه بڼه ډېره شایع وي. د واکسینو او معافیت ګډې کمېټې (JCVI) پټېیلې ده چې سږ کال هم باید د 2023 کال د وروستیو اونیو مشابه پروګرام دا ځل هم تطبیق شي.

> لطفا ژر تر ژره خپل هغه د واکسینو پروګرام قبول کړئ چې تاسو ته وړاندې شوی دی – تاسو ته به په سم وخت کې سم واکسین وړاندې شي.



## کوم اشخاص نه شي کولی د پسرلي واکسین تطبیق کړي

خورا کم شمېر کسان شته چې نه شي کولی دغه واکسین تطبیق کړي. که چېرې تاسو د خپلو واکسینو د پخوانیو دوزونو سره شدید حساسیت کړی وي، نو باید په دې د خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ.

## جانبي عوارض

**معمول جانبي عوارض:** د خپل پخواني دوز واکسینو په شان، د دغه واکسین عامه جانبي عوارض د کووېډ-19 د نورو ټولو واکسینونو لکه د سړ منې واکسینو د ټولګې په شان دي، او په دغو جانبي عوارضو کې لاندې موارد شامل دي:

- په څنګل او د پېچکارۍ د تطبیق په ځای کې بد احساس او سوروالی – چې دغه سوروالی ښائي د واکسینو له تطبیق وروسته له یوې تر دوو ورځو پورې شدید وي
- د ستړیا احساس
- سر درد
- معمولي دردونه یا والګي ته ورته خفیف اعراض او علائم

د دې لپاره چې د واکسینو له تطبیق وروسته ښه احساس ولرئ، کولی شئ استراحت وکړئ او پرستامول وخورئ (په دې اړه په واکسینو باندې د تولیدي مرجع لخوا مندرجه سپارښتنې وګورئ).

د واکسینو له تطبیق وروسته جانبي عوارض معمولا له یوې اونۍ څخه کم دوام کوي. که چېرې مو علایم شدید شول او یا مو اندېښنه پیدا شوه، کولی د 111 شمېرې له لارې NHS ته زنګ ووهئ او یا 111 18001 شمېرې ته زنګ ووهئ/پیغام واستوئ.

همدارنګه کولی شئ د Yellow Card له سیستم څخه استفاده وکړئ ترڅو د خپلو مشکوکو جانبي عوارضو په هکله موږ ته خبر راکړئ.

## اضافي معلومات

تاسو کولی شئ د نورو معلوماتو لپاره لاندې د کووېډ-19 اړونده لارښوونې تعقیب کړئ

**د لویانو لپاره د کووېډ-19 لارښود**

**د کووېډ-19 واکسینو تطبیق: هغه مېرمنې چې ماشومان لري، فعلا مېدواره وي یا ماشوم ته شیدې ورکوي**

**د کووېډ-19 واکسینو تطبیق د هغو اشخاصو لپاره لارښود چې د بدن کمزوری دفاعلي سیستم لري**

**د کورونا وایروس تقویتي دوز واکسین** په NHS.UK کې وګورئ

د واکسینو له تطبیق وروسته **د ممکنه پېښو په اړه معلوماتي لارښود** د ډونلوډ یا غوښتنې لپاره د لاسرسي وړ دی.

د خپلو واکسینو په اړه د نورو جزئیاتو لکه د ممکنه جانبي عوارضو په اړه په بریتانیا کې د مېشتو کسانو لپاره د **Pfizer**، **Moderna یا نورو واکسینو** تولیدي مراجعو لخوا چمتو شوی معلوماتي لارښود ولولئ.

تاسو به د خپل تقویتي دوز واکسین د تطبیق لپاره دعوت شئ، او دا واکسین ممکن ستاسو GP تاسو ته وړاندې کړي او یا یې هم کولی شئ **NHS اپلیکېشن** له خوا بوک کړئ.

همدارګه کولی شئ د واکسینو د ترټولو نږدې مرکز په وېبسایټ کې پیدا کړئ **www.nhs.uk/vaccine-walk-in**.

همدارنګه کولی شئ د خپلو مشکوکو جانبي عوارضو په هکله د Yellow Card وېبسایټ له طریقه خبر ورکړئ او یا (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9 څخه د مازدګیر تر 5 پورې) د 0800 731 6789 شمېرې له لارې اړیکه ونیسئ، همدارنګه دا کار د Yellow Card د اپلیکېشن د ډونلوډولو له لارې هم ترسره کولی شئ.

**www.mhra.gov.uk/yellowcard**



This leaflet is also offered as a translated version in Albanian, Arabic, Bengali, Bulgarian, Chinese, Chinese (simplified), Estonian, Hindi, Italian, Gujarati, Latvian, Lithuanian, Polish, Panjabi, Pashto, Russian, Spanish, Somali, Turkish, Tigrinya, Ukrainian, Urdu and Yoruba. It is available as a BSL video, braille and large print. Please visit **www.healthpublications.gov.uk** or call 0300 123 1002 to order more copies.

© Crown copyright 2024. UK Health Security Agency gateway number 2024-041. Product code: C224SP2PS Pashto.